وردک افغان

۲۰۱۲/۰۹/۲۱

# د ایراني جاسوسانو په نوم واټ
## دې رباني واټ ونومول شي

د برهان الدین رباني زوی او ځیناستي صلاح الدین رباني د ناټو له خبري ټلویزیون سره په مرکه کې په ډاګه کړې چې جمهور رییس حامد کرزی به د کندهار نړیوال هوایي ډګر د دهٔ د پلار په نوم ونوموي. د حیرانۍ خبره دا ده چې د جمهور رییس حامد کرزي دغه پرېکړه بهٔ د کوم منطق او کوم منصف له مخې وي.

هوایي ډګر، روغتونونه، پوهنتونونه، ښوونځي، واټونه، کوڅې او داسي نور د معمول او معقول له مخې د هېواد او نړۍ د تاریخي او نامتو څېرو په نومونو چې پوهان، د هېواد او نړی په کچه بریالي مشران، مذهبي مشران، د هېواد او ټولني خدمتګار او بشردوست کسان وي، نومول کېږي، نه د هغو کسانو په نومونو چې تل یې د هېواد د بربادۍ، ملي نفاق، قوم پرستۍ او ژبني تعصب ته د لمن وهلو لپاره ژوند قرباني کړی وي. که موږ د برهان الدین رباني ژوند او شخصیت ته په غور سره وګورو، هېڅ داسي نښه بهٔ پهٔ ګوته نکړو چې د هغهٔ پر وطن دوستۍ، هېواد ته د خدمت، ملي یووالي ته په ژمنتوب او ښهٔ رهبریت دلالت وکړي.

له پښتنو او پښتو سره د هغهٔ دښمني د لمر په شان ټولو افغانانو ته روښانه ده چې ببلګه یې په افغانستان باندې د امریکا له خوا د تیري په وخت کې- له امریکا څخه د هغه ملاتړ او تشویق دی. امرکایانو ته به یې ویل چې لوی لوی بمونه وربانديٰ واچوئ، دا قوم په داسي بمونو سره له منځه نه ځي. د حزب شعار یې تل دا و چې تر هغه کچې باید مبارزه وکړو- چې که د کوم پښتون دروازه څوک ور وټکوي ونه وایي چې څوک یاست بلکه باید ووایي چې کیست یعني څوک دي؟ په دې مانا چې حتی د دې قوم ژبه هم باید له منځه یوسو.

هېواد ته د هغهٔ د خدمت ښه بېلګه په ښکاره توګه د سولي د عالي شورا مشري وه خو په پټه یې له سولي سره هم دښمني کوله. هم یې حکومتي څوکۍ اشغال کړې وه او هم یې د سولې په ضد ګوندونه او ټیلي رامنځ ته کړې چې د ملي ائتلاف په نوم د حزب او نورو ټپلو رامنځ ته کول یې ښه مثال دی چې په ډاګه له سولي او ملي یووالي سره دښمني پالي. د یوې ټپلي مشر ډاکټر عبدالله چې ځان د ملي ائتلاف په نوم د حزب مشر بولي، په یوه ټلویزیوني مرکه کې وویل چې موږ د حزب (چې دی یې ځان مشر بولي) رامنځ ته کول او خپل ټول فعالیتونه د استاد رباني په خوښه او مشوره مخ ته وړي او وړو یې. د نوموړي په وینا استاد زموږ یو ښه مشر او رهبر دی. دا په داسي حال کي ده چې د ملي ائتلاف په نوم د حزب او نورو ټپلو فعالیتونه چې د استاد رباني په مشوره رامنځ ته شوي، او له سولي او ملي یووالي سره د هغوی دښمني د لمر په شان روښانه ده، آن دا چې د هېواد د تجزیې په اړه یې دسیسې او هڅې هم له هېچا څخه پټې نه دي.

رباني او حزب یې د افغنستان په پرتله د ایران ګټو ته ډېر ژمن دي چې ښه بېلګه یې  نور ټلویزیون دی چې د ایران د ګټو پر بنسټ او د افغانستان د ملي ګټو مخالف خپروني کوي. بله بېلګه یې په مزار شریف کې د ایراني جاسوسانو په نوم چې د طالبانو له خوا وژل شوي وو، د یوه لوی سړک نومول دي چې دا هم د ایران ملي ګټو ته د دې حزب او نورو ټپلو یې- د ژمنتوب بېلګه ده.

جمهور رییس حامد کرزي هم تل د ملي یووالي په پلمه، په قدرت کي د پاتي کېدو او شخصي ګټو په موخه دوی ته ښه راغلاست ویلي. فهیم کومه توره کړې، چې د مارشال لقب یې ورکړ. یو توریالی او نومیالی غازي د داسي لقب وړ دی. جنګي جنایت کار او قاتل یې د ملي اتل په نوم ونوماوه. مخدوم رهین چې ټولو ته ښه څرګند هم دی او یو ځل په همدې تور چې د ایران ګټې پالي او ملي نفاق ته لمن وهي، د ولسي جرګې له خوا صلب صلاحیت شو، خو بیا هم جمهور رییس کرزي د اطلاعاتو او فرهنګ د وزیر په توګه وټاکه- چې تر ننه یې ملت له شومو موخو او کړنو څخه ځورېږي.

کرزی که په رښتیا سره د ملي یووالي لپاره کار کوي، نو بیا ولي یې په ۲۰۰۹ کال کې د پخواني ولسمشر محمد داود په ویاړ، چې ویاړونه او کارنامې یې ټولو افغانانو ته څرګندې دي، د نوموړي په نوم د کابل هوایي ډګر له نومولو سره مخالفت وکړ.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زه د یوه افغان په توګه له جمهور رییس حامد کرزي څخه غواړم چې نور دا ډول لوبې پرېږدي او د ملي یووالي په پلمه د خپلو شخصي او ثلیقوي ګټو په موخه له ملي خیانت څخه لاس واخلي. که کرزی په رښتیا سره غواړي د ملي یووالي لپاره کار وکړي نو په مزار شریف کې د ایراني جاسوسانو په نوم واټ دې د رباني واټ په نوم ونوموي، تر څو خلکو ته دا ثابته شي چې په رښتیا سره هم حامد کرزی د افغانستان خپلواک رییس جمهور دی او کولای شي د خپل یوه والي پرېکړه رد کړي. له خلکو او په ولسي جرګه کې د خلکو له استازو څخه هم په کلکه غوښتنه کوم چې پرېنږدي د جمهور رییس حامد کرزي دغه نه بښونکې پرېکړه د عمل جامه واغوندي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ